بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي ریاست

د تحریراتو آمریت

د متحدالمآلونو څانګه

متحدالمآل نمبر: ۳۳

تاریخ: ۳/رجب المرجب/ ۱٤٤۵ هق
مصادف: ۲۵/جدي/ ۱٤۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

---

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د زندانونو چارو د سمون اداري د پیشنهاد په توسط د ځینې اداري مشکلاتو په ذکر کولو سره غوښتنه کړې وه تر څو محاکم لخوا، بندي محبس د معرفي کولو، بندي قضائي مجلس ته د غوښتلو، د قابل رهائي بندیانو محبس ته د رسمي مکتوب په توسط خبر ورکولو او نورو اداري مواردو په اړه د زندانونو چارو د سمون ادرې سره اصولي همکاري وشي یاده موضوع د ستري محکمې د عالي شورا مجلس مورخ ۸/جمادی الأولی/۱٤٤۵هق ته وړاندې شوې وه په اړه یې د تصویب نمبر (۱۱) د اتمې پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت کړی وو: (د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست دې د سجل توقیفي فورم د زندانونو چارو د سمون اداري څخه راوغواړي او د دوی غوښتنو ته په کتلو دې ترتیب جوړ کړي تر هغه وروسته دې موضوع د عالي شورا راروان مجلس ته وړاندې کړي.) د یاد هدایت مطابق د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست (د بندي په اړه معلوماتي فورم) ترتیب کړی چې یاد فورم د ستري محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱٤/جمادی الأولی/۱٤٤۵هق مصادف ۷/قوس/۱٤۰۲هش کې مطرح شو په اړه یې د تصویب نمبر (۱۲) د یوولسمې پریکړې په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا د بندي په اړه ترتیب شوی معلوماتي فورم د ستري محکمې د عالي شورا لخوا تائید دی ټولو محکمو ته دې په متحدالمآل شکل واستول شي تر څو د یاد فورم مطابق اجراآت تر سره شي البته د بندي عکس اخستل او پر یاد فورم لګول د اړوند محبس کار دی.))

بناءً د ستري محکمې د عالي شورا د هدایت مطابق د بندیانو په اړه معلوماتي فورم ددې متحدالمآل مل په یوه ورقه کې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو ټول محاکم د خپلو مربوط بندیانو لپاره یاد فورم ترتیب او په دوسیه کې یې کټ‌مټ ثبت دې او یوه کاپي یې مربوطه محبس ته واستوي.

په درنښت

(امضاء) ۳ ۷ ۱٤٤۵ هق

(مهر: د افغانستان اسلامي امارت، ستره محکمه، ریاست عمومی دارالانشاء)

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

---


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

## ستره محكمه

د (                                        ) محكمه

نېټه: / / ۱۴۴ هـ ق

مصادف: / / ۱۴۰ هـ ش

د (            ) ديوان

د بندي په اړه د محكمې د اجراآتو معلوماتي فورم

| د بندي شهرت | | | | اصلي استوګنځای | | | فعلي استوګنځای | | | د بندي د وکيل/پایواز شهرت | | | د دعوی نوعيت | د ګرفتاری نېټه | د ابتدائيه محكمې د فيصلې نمبر او نېټه | د استيناف محكمې د فيصلې نمبر او نېټه | د نهائي فيصلې نمبر او نېټه | د بندي عکس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نوم | ولد | ولديت | د تذکرې شمېره | ولايت | ولسوالۍ/ناحيه | کلی/ګذر | ولايت | ولسوالۍ/ناحيه | کلی/ګذر | نوم | ولد | ولديت | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | د بندي د ګوتې نښه |

| د ابتدائيه محكمې حكم | د استيناف محكمې حكم | د تميز عالي رياست د (      ) ديوان حكم | د بندي د ازاديدو نېټه |
|---|---|---|---|
| | | | ستره محكمه رياست عمومي دارالانشاء |

**يادونه:** په مرکز او ولايتونو کې د زندانونو چارو د سمون اداري مربوط اداري واحدونه (محبسونه) مکلف دې چې د بندي تر خلاصيدو وروسته مربوطه محكمې ته اطمينان ورکړي.